## مطبوعاتي اعلامیه

## ﴿إِنَّالله وَإِنَّاإِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾

موږ د الله سبحانه وتعالی یو او د هغه لوري ته ورګرځو.

د الله سبحانه وتعالی پر قضا په پوره او راسخ باور د حزب‌التحریر- ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر، د محترم ورور مرحوم عبدالغیاث د وفات له امله د هغه درنې کورنۍ ته تسلیت وایو او د الله متعال له درباره ورته جمیل صبر او عظیم اجر غواړو.

زموږ ګران ورور او مخلص دعوتګر عبدالغیاث ۴۳ کلن و، چې د خپل عمر ۸ کاله یې په حزب التحریر کې په دعوت کې تېر کړي وو. نوموړي د روان کال د سنبلې په ۲۲مه د پنجشنبې په ورځ په یوه ترافیکي پېښه کې د اځل داعي ته لبیک ووایه. الله سبحانه وتعالی ته د هغه لپاره د مغفرت او فردوس جنت دعا کوو.

عبدالغیاث ورور یو فعال دعوتګر و، چې د دعوت په لاره کې یې ډېرې ستونزې وګاللې او د راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره یې په پوره ثبات او ډاډ خپلې مبارزې ته دوام ورکړ.

هغه په افغانستان کې د حزب التحریر د دعوت یوه مهمه سرمایه وه، په حقیقت کې موږ د ده نشت احساسوو او الله سبحانه وتعالی ته دعا کوو، چې د ده نېک اعمال په خپل دربار کې قبول او نوموړي ته د جنت په روضو کې ځای ورکړي.

﴿وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ * الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾ [بقره:۱۵۵-۱۵۷]

صابرانو ته زېری ورکړه، هغه کسان چې کله کوم مصیبت ورورسېږي، نو وایي: موږ د الله یو او د هغه لوري ته ورګرځو.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**